ليکونکي: سارالازار(Sarah Lazar) دليکونکو له بوردخخه.

منبع او دخپريدو نيته : ( کمان درېم «۲۰۱۴-۱۲-۸».

ژباړونکی او خیرونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

---

## ناټو په سمبوليک بڼی سره خپل بيرق په افغانستان کی راښکته کړ،لاکن امريکای جنګ همغسی مخ په وړاندی روان دي

## NATO Symbolically Lower Flag in Afghanistan ,But US War To march On

جګړه مارو په درواغو سره عا مه خلکو ته په افغانستان کی دجنګ جګړی ختم اوپای اعلام کړ ، حال داچي د«اوباما » اداره په افغانستان کی د جنګ اورته پکي وهی اود جنګ د لمن د پراخيدو په هڅه اواند کی نوی طرحی اوپلانونه جوړوی.



دايساف ګارد اودايساف دقوتونو د مشترک قوماندانی اودهوايي ځواک داتلسم جزوتام سرتيری په رنګينه کاليو کی ددسمبر داتمی نيتي کال «۲۰۱۴ » دکابل په شمال په بين ا لمللی هوای ډګرکی په يو ځا نګړی مراسم کی « فوتو ايسا ف /public Domain »

په کابل کی ددوشنبی په ورځ دامريکی دمتحده ايالاتو اودناټونظامی قوماندانانو او نظامی سرمشريزی دخپلو بيرقونو دښکته کيدو په مراسم کی ديو رسمی

اعلامیی په ترڅ کی خلکو ته په ډاګه کړل چی مونږ نورپه افغانستان کی جنګی عملیاتونه نه کوو یعنی داچی مونږ پس له دی په افغانستان کی هیڅ نظا می عملیات نه تر سره کوو!

غربی لوی جمعی رسنی یا میدیا کله چی دغه اعلامیه تر لاسه کړل نو ددغه اعلامیی متن اوپیغام ډیر په چټکی او طوطی وار سره د خپلو رسنیو پواسطه سره په نشر ورسول . اما یو پرابلم چی دلته باقی پا تی کیږی هغه دامریکی د متحده ایالاتو تر رهبری لاندی دغه روانه جګړه لا پخپل قوت کی پا تې دی او دهغه پای لا تراوسه نه دی معلوم یعنی چی جګړه دوام کوی او نه ختمیږی.

دامریکی دمتحده ایالاتو اودناتود مشترک ستاد یا دفرماندهی دمرکز دتړل کیدو رسمی اعلامیه د بین المللی امنیتی کمک رسولوځواک (ایساف) جنرال جان کمپ بیل (Campbell) دامریکی دمتحده ایالاتو داردو جنرال ددوشنبی په ورځ د با ند نیو قوتونو په سرقوماندانیت کی تر سره کړ اوهغه پخپل یو خبری ناسته کی داسی ادعا کړ :

زمونږ ایتلاف ډیر زر خپل پرسونل به تر (۳۰۰۰) تنو پوری رده بندی وکړی هغه دخپل سرتیرو ته په خطاب کی داسی زیاته کړ : تا سی له ښه نه هم ښه خپل دندی دلته تر سره کړی دی او دا هم دخوښی ځای دی چی تا سی پخپله ځان مو د لته په کا ر مشغول سا تلی دي .

ایسا ف په افغانستان کی خپل ماموریت ناتو ته ولیږدول کوم چی نا تو باید خپل مرستندوی ماموریت دافغان دنظامی نها دونو اود افغان دامنیتی قوتونو پر روزنه ، مشوری ورکولو اود نظا می عملیا تونو د سرته رسولوپر لاری چاری باندی متمرکز کړی ښه به دا وی چی دایساف هغه رهنمودی بیانیه کوم چی ددوشنبی په ورځ په هغه پرتمین ناسته کی واورول شو ولوستل شی اوهغه داچی دناتو دمرستندوی پریکړی ماموریت (Resolute support mission) دجنوری په لمړی ورځ کال (۲۰۱۵) کی پیل کیږی .

دلته د یادونی مهم مطلب چی باید پرهغه باندی یو حه تم شو دادی چی ښاغلی «اوباما» دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور ریس دنومبر په میاشت کی په پټ او مخفی بڼی سره یو فرمان لاس لیک کړ چی دهغی فرما ن دهدایت سره دامریکی نظامی پلی قوتونو ته دیوه ډیر سخت اودروند ماموریت دسرته

رسولو مجوز ورکړ ، کوم چې امریکایی نظامی قوتونه ددی فرمان له مخی کولی شی چې د (۲۰۱۵) کال په دوران کی خپل دغه ماموریت ترسره کړی داهغه څه دی چې نیویارک تایمس دتیر میاشتی په وروستیو کی دښاغلی اوباما دفرمان محتویات دخپل رسنی پواسطه سره افشا او په نشر ورسول ، اوهغه داچی اوباما خپل جنګی نظامیانو ته دشین څراغ په ښودلو سره هدایت ورکړ چی په افغانستان کی دطالبانو اودنوروجنګی شورشیانو پرضد نظامی عملیاتونه ترسره کړی اودجګړی په وخت کی پرهغوباندی دجیت اودبی پیلوتوپه الوتکو سره کولی شی چی بمب هم وغورځوی.

سربیره پرهغه دامریکی دمتحده ایالاتوددفاع تلونکی وزیر ښاغلی چوک هیګل(Chuck Hagel ) دشنبی په ورځ داسی اعلام وکړ :اوهغه داچی مونږ په کال (۲۰۱۵) کی (۱۰۰۰) تنه نوراضافی امریکایی سرتیری په افغانستان کی سر بیره پرهغه شمیر سرتیرو چې مخکی ښاغلی اوباما دهغوی باقی پاتی کیدل په افغانستان کی وروسته د (۲۰۱۴) څخه منلی وه سا تو. نو په دی توګه دامریکایی د سرتیرومجموعی شمیر چی وروسته د کال (۲۰۱۴) څخه په افغانستان کی پا تی شی(۱۰۸۰۰) تنو به وی، اود با ند نیو سپاهیا نو سره دغه اضافی (۱۰۰۰) تنه امریکای سرتیری مجموعی شمیر (۱۳۰۰۰) تنو ته به ورسیږی چی دناتو دسربازانو سره یوځای خپل سپارلی شوی دندی به مخ ته ویسی یا د(مبارزی توانمندی ) به ولری داهغه څه وه چی هیګل پخپل خبرو کی څرګند کړ .

بل مهم مطلب چی دهغه یادونه دلته لازم ګڼل کیږی هغه دافغانستان د حکومت اودامریکی د متحده ایالاتو ترمینځ دوه اړخیز امنیتی توافقنا مه دی کوم چی دسپتمبر په میاشت کی ددواړو حکومتونو داستاذو پواسطه سره لاس لیک شو اودهمدی توافقنامی په رڼا کی امریکای سرتیرو ته تر یوبل لسیزه پوری مجوز ورکول کیږی چی دلته په افغانستان کی پاتی شی اودهغو دنده به دا وی چی افغانی سرتیرو ته ښونه- روزنه - ما لی اوتسلیحا تی مرستی تر سره کړی، ددی توافقنامی په مندرجا تو کی داسی هم په ذکر رسید لی دی چی امریکایی پوځیان دافغانستان دموجوده قوانیو په نظر کی نیولو سره معا فیتی مصونیت لری ( **یعنی امریکایی پوځیان دکوم جرم په کولو سره یوائی په امریکی کی دامریکی د متحده ایالاتو د قوانینو پر بنیاد محاکمه کیږی یا مجرم ته سزا**

**ورکول کیږی نه داچی امریکایی  سرتیری د جرم په کولو سره دلته په افغانستان کی دافغانی قوانینو په نظر کی نیولو سره  محکوم  په جزا شی )**

چی داپخپله په یوه هیواد کی چی دهغه اتباع د همدی سرتیرو پواسطه سره قتل عام  شوی او بیا هم قتل عام شی د  تعجب او د حیرانتیا  رغنده   موضوع  بلل کیږی .

همدارنګه  دنومبر دمیاشتی په وروستو کی دافغانستان جمهور ریس  ښاغلی محمد اشرف غنی  کوم چی هغه دامریکی دمتحده ایالاتو له خوا ملاتړ کیږی ، هغه دشپی له طرفه کرکجن اومنفور عملیاتونه کوم چی دامریکی دمتحد ایالاتو دځانګړی قوتونو پواسطه سره دافغا نا نو پرکورونو باندی یرغل تر سره کیدل او دافغانستان مخکینی جمهور ریس  حامد کرزی دغه دشپی له خوا عملیاتونه بندکړی وه،نوی جمهورریس محمد اشرف غنی دغه خنډ لیری کړاو دافغانستان دپوځ په تشکیل کی دځانګړی فوتونو دبیارغونی هدایت صادرکړچی دامریکای سرتیرو سره یوځای  دشپی له خوا دضرورت په وخت کی  عملیاتونه  تر سره کړی او پر شکمنو   باندی دشپی له خوا یرغل وکړی .

دافغانستان خلکو  کوم چی ددی ډول پالیسی  تر اغیزی لاندی ژوند کوی ممکن چی هغوی داسی اونګیری یا داسی ادعاو کړی چی (ایساف) خپل دنده په ښه شان سره تر سره کوی .

بی دویلو دی پا تی نشی چی  په افغانستان  کی د جولای په میا شت  دملګرو ملتونومرستندوی اداره یو راپور خپور کړ کوم چی په دی راپور کی ویل شوی چی  په کال (۲۰۱۲) کی دافغان دملکی وګړی مرګ  اوژوبله  د هغه  دوامدار مخالفتونو له مخی چی په هیواد کی موجود دی   د(۲۰۰۹) کال په پرتله  کوم چی افغانان  مړ شوی یا ټپی شوی دی څو چنده زیات دیُ  همدارنګه  په راپور کی راغلی دی چی دنومبر په میاشت کی دملګرو ملتونو  دانسانی خدماتواداره په افغانستان کی په ډاګه کړی چی دجنوری اود سیپتمبر دمیاشتو په مینځ فاصله کی   (۷۹۶۵) افغانی ملکی خلک  دهمدی جګړی په ترڅ کی خپل ژوند دلاسه ورکړی  چی  ډیری یی کوچنیان وه  او  هم  نژدی ( ۱۰۵۸۰۰) خلکو له خپلو کورونو څخه بیځایه شوی دی  .

هغه لا څه چی په دی تازه وختونوکی  یعنی دشنبی په ورځ  دشیراحمد ندیم ژورنالست  په  قول د ا یساف  سرتیری د قندهارپه جنوب کی چی پریوه موټر

باندی ډزی وکړل او دوه ملکی بیګناه سړی یی ووژل اوخوک یی په قصه کی هم ونشو .
دخلکو نیوکی داسی په ګوته کوی چی په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو دیارلس کال شتون اود افغانستان اشغال هغه سوغات چی ددی هیواد خلکو ته ورپه برخه کړ غیر د مړنی ، اجتماعی بی ثبا تی ، لوږه ، نیستی ، اوفساد حخه بل شی نه وه کوم چی اوس افغانان له هغه څخه رنځ وړی .
په دی تیرو دیارلس کالو کی دامریکی متحده ایالات اودهغه سره تړلی ایتلافی قوتونه کوم چی ذلته په میلیونو دالر دلاسه ورکړ نه داچی دافغانستان خلکوته کوم مشخص لاسته راوړنه ور په برخه نکړ ، بلکه دافغانستان خلک یی په راز راز مصیبتونوککړ کړل ، چی اوس دغه هیواد دنړی دبین المللی مافیا اودجګړه مارو سړی وژونکو په یوه خوندی ځا له بدل شوی او ددی خلکو دپا ره نیستی ، مرګ ، ژوبله ، ناقراری ، قومی اختلافات اوکشالی وربرخه کړی یعنی هغسی مصیبتونه کوم چی خپل لوړی څوکی ته رسیدلی دی ، داهغه څه دی چی دافغانستان د ښځو دانقلابی پیوستون په بیانیه کی دامریکی دمتحده ایالاتوله خوا دافغانستان داشغال ددیارلسم کلیزی په منا سبت څرګند شوی دی همدارنګه په دی بیانیه کی داسی په ذکر رسیدلی چی زموږ دافغانستان خلکو چی نن ددی جنګ څخه ستړی شوی اودهغه په اورکی سوځی دهغه اصلی عا مل دغه نه رابلل شوی اشغالګر قوتونه دی چی زموږ په هیواد کی خپل کرغیرن وزرونه غوړلی دی .
نوټ : دغه مقاله دیو مشترک څیرنیز کمیتی تر څارنی لاندی چمتو شوی دی
--------------------------------- په درناوی .